﴿يُؤْتِي الْحِكْمَةَ مَنْ يَشَاءُ وَمَنْ يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ﴾ [البقرة: ٢٦٩]

الفتاوى الخادمية

مضامين

لومړی ټوک

تأليف:

مفتي خادم احمد «سعيد» عفى عنه

د کندهار د جامعه ابراهيم «النخعي» د تخصص «دکتوراه» څخه فارغ.

د (الجامعة دار العلوم العربية لسعد ابن أبي وقاص رضي الله عنه) استاد

دکتاب پېژندنه:

د کتاب نوم..الفتاوی الخادمية.

د مصنف نوم............................ مفتي خادم احمد «سعيد» عفی عنه.

مکمل سيټ....................................اووه (۷) ټوکه.

ټوک.. لومړی.

کمپوزنګ:..................................مؤلف په خپله

د چاپ کال: (۲۰/ربيع الثاني/۱۴۴۶هق) الموافق (۲۴/۱۰/۲۰۲۴م).

دچاپ وار: ....اول

خپرونکې اداره: خدام القرآن والسنة خپرندويه اداره

درابطې شمېرې: ۰۷۴۹۹۳۰۵۵۱ او ۰۷۰۶۹۸۰۷۵۸ ساده او واټساپ.

انتساب:

- ❖ دبشریت ستر لارښود حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) ته چې دجاهلیت دنا امیدۍ په تیارو کې یې د همېشنۍ کامیابۍ د لوري بلې کړې او انسان یې ابدي کامیابۍ ته هڅولی دی .
- ❖ او هر هغه چا ته چې زمايې علمي، ذهني، روحاني، تربیتي ،جهادي او بدني روزنه کړې ده ،او په دغه لارکې یې خپل ځانګړی رول لوبولی دی ،لکه: زما مور او پلار او زما محترم او مشفق استادان.

دفتاوی خادميې دلومړي ټوک دمسائلو تفصيلي فهرست

Contents

پــېـــــلیزه!!!

امریکا او دهغوی متحدینو پر افغانستان تجاوز او تېری کړی و، په افغانستان کې د امریکایانو او د هغوی د غلامانو سره دطالبانو او افغان غیور اولس لخوا جهاد په ښه میړانه او غیرت سره شروع و، خو لله الحمد ما عاجزه بنده (خادم احمد) د جهاد سره سره خپل دیني سبقونه هم جاري ساتلي و، او هر کال به مي د جهاد د نَوبت تېرولو څخه وروسته خپل سبقونه بیا شروع کول، په دې سلسله کي مي دفنونو د تکمیل څخه وروسته په تاریخ: (۱۴۳۹هق مطابق ۲۰۱۸م) کي په (الجامعة الاسلامیة کچلاک بلوچستان پاکستان) کي وړه دوره (الدورة الصغری) پر حضرت مولانا حاجي مفتي محمد طاهر احمد «الکوه بندي» صاحب (حفظه الله تعالی) او مفتي محمد فزیر احمد صاحب باندي پای ته ورسول او د ممتاز سند مي تر لاسه کړ.

بیا مي د دغه څخه وروسته اراده سوه چي د پاکستان یوې بلې صوبې (ولایت) پېښور ته ولاړ سم، هلته د زینت المحد ثین حافظ العصر استاد العلماء حضرت مولانا محمد ادریس «ترنګزایي» صاحب څخه استفاده وکړم، داو چي په تاریخ: (۱۴۴۰هق مطابق ۲۰۱۹ م) کي مي دغه ستر ارمان پوره سو او په (المدرسة دارالعلوم النعمانیة اتمانزئ چارسده پشاور) کي مي پر دغه ستر محدث او امام لویه دوره (الدورة الکبری) پوره او د ممتاز سند مي تر لاسه کړ.

بیامي هم د علم د زده کړي حوصله کمزورې نه سول ،او د استادانو او ملګرو په مشوره مي تخصصاتو او عالي تحصیلاتو ته اراده وکړل،داو چي د ډیرو مشورو او استخارو څخه وروسته مي د افغانستان د اسلامي امارت د تخصصاتو په اداره کي داخله وکړل ،چي په داوخت کي دغه مذکوره اداره د پاکستان په کوئټه ښار کي وه ،او هلته مي دوه کلنی تخصص پیل کړو ،د دوه کاله د تخصص څخه وروسته په تاریخ: (۱۴۴۲هق مطالبق۲۰۲۱م) بیا د دغه اداري څخه فارغ التحصیل سوم او د دکتوراه تصدیق نامه مي تر لاسه کړ .دا هغه کال و چي د قطر هیواد په دوحه کي مذاکرات د طالبانو او امریکا ترمینځ روان وه .

د تخصص په دغه دوه کلني نصاب او دوران کي به موږ ته د استادانو لخوا استفتاوي او مسئلې راکول کېدلې او موږ به د دغه استادانو په نګرانۍ کي حل کولې چي شمېر یې (۲۰۰) ته رسېدی ،په دغه وخت کي ډیرو ملګرو دغه مسئلې په قلم او کتابچو کي لیکلې او ما عاجزه بنده په هغه وخت هم دغه مسئلې او نوري مسئلې په خپل کمپیوټر کي لیکلې او د ځان سره مي ثبتولې.

د دغه تخصص د فارغت څخه وروسته مي تخصص في علوم الحدیث ته اراده سول،چي په دا وخت کي دغه تخصص په (المدرسة دارالعلوم الهاشمیة نوای کلي کوئټه) کي پرشیخ الحدیث حضرت مولانا مفتي نجیب الله «منیب»

صـاحب – حفظه الله تعالی – باندي کېدی،چي زه هم دنورو ملګرو پشـان ورغـلـم او پـه دغـه اداره کـي مـي د «تـخصـص فـي عـلـوم الـحـديـث» داخلـه وکړل،بالـاخره په تاريخ: (۱۴۴۳هق مطابق ۲۰۲۲م) کي د دغه تخصـص في علوم الحديث څخه هم فارغ التحصيل سوم او د الله تعالی په توفيق سره مي د ممتاز سند مي تر لاسه کړ.

په دغه کال مي هم د تليفون او واټساپ اونورشيانو په واسطه ډيري مسئلې حل او جواب کړې ،چي د دغه مسـئلې مي هم د ځان سـره په ليکلي شـکل ثبت او محفوظ کړې.

داهغه کال و چي په افغانسـتان کي جهاد او مجاهدين کامياب سوه او امريکا او د هغوی ملګري مات او شرمنده سول،چي داد افغانستان د مسلمانانو لپاره غټه لاسته راوړنه او کاميابي وه.

د فراغت سره سم دخپلو استادانو او مشرانو په رهنمائي او مشوره افغانستان ته راغلم او د کندهار ولايت د سـپين بولدک ولسـوالۍ کي د دروازې سره نيژ دې په کمېسـارۍ کي د افغانسـتان داسلامي امارت په چوکاټ کي د اصـولو سـره سـم په ديني خدمت او درس تدريس بوخت سـوم ،چي د دغه کمېسـارۍ د

ملګرو (آمر عقید تي) وم اوپه (المدرسة معد ن العلوم وېش باړ) کي استاد وم ، یو کال مي دلته دغه دیني خدمت وکړ .

د یو څو میاشتو لپاره بیا دهیواد په پا ی تخت کابل ولایت کي د مالیې وزارت دحقوقي بورد په ریاست کي د آمر په حیث کار مند وم ،اوهلته مي خدمت تر سره کاوه ،چي بیا په تاریخ: (۱۴۴۴هق مطابق: ۲۰۲۳م) د روژې دمیاشتي څخه وروسته ،دغزني ولایت د ناوې ولسولۍ د ملکدین کلي ته ولاړم ،هلته په (الجامعة دارالعلوم العربیة لِسعدابن أبي وقاص – رضي الله عنه) کي د استاد په حیث مقرر سوم او درس و تدریس مي شروع کړ،چي اوس هم په تاریخ: (۱۴۴۵هق مطابق: ۲۰۲۴م) په دغه مدرسه کي داستاد په حیث مقرر یم اوپه خپل درس و تدریس بوخت یم .

نو خلاصه دخبري داسوه چي دلویه دورې دفراغت څخه وروسته په دغه ټول وخت کي مي چي پنځه (۵) کاله کیږي د مسئلو د حل کولو، لیکلواو فقهي مجالسو کي دشرکت کولو څخه مخ نه دی اړولی،چي بالاخره مي دغه خپل لیکل سوي مسئلې سره را جمعه کړې او ترتیب مي ورکړ،چي دغه یوه مجموعه او فتاوی ورڅخه جوړه سوه،چي ټول (۷) ټوکونه لري دادی ستاسو مخته پرته ده .

الاعتذار:

(مَن صَنَّفَ فَقَد استُهدِفَ)

ترجمه: چاچې تصنیف وکړی هغه دخلکو هدف وګرځول سو، یعني: څوک چې په کوم علم کې تصنیف او لیکنه وکړي نو له هرې خواپرې داعتراضاتو او نیوکو باران شروع سي.

داچې موږ په دې فتاوی کې ترخپله وسه پوري بشپړه خواري کړې ده ،لیکن بیاهم آخر د انسان لیکل سوی کتاب د غلطۍ څخه خالي او پاک نه وي، نو د ټولو هغو ورونو او خوېندو څخه چې دا فتاوی ګوري یا یې کتلې وي ، هیله کوو چې په دغه فتاوی کې هر قسم غلطي وي ، لکه : لفظي ، حکمي ، املائي کمپیوټري او نور ... د الله «جل جلاله» لپاره زموږ سره په لاندي نمبر رابطه وکړئ ، د دې لپاره چې موږ یې په راروانه طبعه کې تصحیح وکړو . مننه

رابطه نمبر : ۰۷۰۶۹۸۰۷۵۸

هیله:

تاسو ټولو ته بهتره معلومه ده چې یو انسان ټول کارونه نشي ترسره کولای، ترڅو بل انسان د ده سره همکاري ونه کړي نو زموږ تدریسي خدمات ، انتظامي

، دعوتي ، افتاء ، د تصنیف تالیف او داسي نور ټول خدمات زموږ هیڅ کمال نه دی بلکي زموږ د والدینو ، ورونو ، او په زړه پوري ملګرو(۱) همکارۍ ده، چي موږ یې دغه خدماتو ته فارغ کړي یو، په دې اساس له ټولو کتونکو څخه ډېره عاجزانه هیله کوو چي دوی ټول په خپلو نیکو قبول شویو دعاګانو کي تل یاد ساتي.

او په آخر کي له ټولو هغو مسلمانانو ورونو او ملګرو څخه چي د موادو په راټولولو ، کمپوز ، ترتیب ، چاپ ، او نیکو مشورو کي یې زموږ لاسنیوی کړی ،او یا یې کوي ، دزړه له تله مننه کوو.

ستاسو د دعاګانو په هیله ستاسو کشر ورور مفتي خادم احمد «سعید» عفی عنه.

---

۱ –خصوصاً زموږ خاص ملګری ،تکړه او باستعداد عالم مفتي ضیاء الله صاحب،چي اوس دمالیې وزارت د حقوقي بورد په ریاست کي په خدمت بوخت دی.الله تعالی دي ورته اجر عظیم ور کړي.

(بسم الله الرحمن الرحيم)

د فتوی د لیکلو لپاره أصول:

د مجالسو د لاښه پر مختګ او د استفتاوو د معیاري کېدلو لپاره باید لاندي أصول په پام کې و نیول شي، چې ټول (۴۴) دي.

۱ـــــ: په مبیضه باندي د حدودو تعین: (یعنې د پنسل په ذریعه باید د هغې راسته او چپه لوري ته د صفحې له سره بیا تر پای پوري طولاني خط کش کړل شي څو د سطر پیل او پای په عرض کي معلوم وي او په لیکنه کې له هغه حد نه تجاوز ونه شي په بل تعبیر مبیضه باید چوکاټ ولري.

۲ـــ بیا په پیل کې د (الاستفتاء) کلمه په ښه کتابت سره لیکل او هم په پای کې شارحه (:) ورسره متصله کول. [۵]

۳ـــ د مستفتي بیان په هم هغه الفاظو کې لیکل چې مستفتي لیکلي دي یعنې تغیر باید په کې و نه شي، البته د املاء او غلطو الفاظو تصحیح کولای شي، همدا راز هغه ډول تغیر چې مفهوم نه بدلوي لکه الفاظ مرتب کول پروا نه لري.

۴ــــ د مستفتي د بیان په پای کې په مناسب ځای او ترتیب سره د مستفتي نوم او د استفتاء د راتلو نېټه لیکل، یا دا چې په کوم تاریخ دا استفتاء ور کړل شوه.

۵ــــ له دې وروسته بلا فاصلې د الافتاء کلیمه یاداسي کلیمه چي دالافتاء په معنی وي لکه الجواب یانور ، لیکل.

۶ــــ د خطبې په اجزاوو پیل کول: اول بسم الله الرحمن الرحیم شفاها ویل او بیا د حامدا و مصلیا و بعد کلمات لیکل.

۷ــــ د سوال بیان په جواب کي نه را ګرځول بلکې د سوال مفهوم ته داسي اشاره کول: چې په ذکر شوي صورت کې...یا په مسؤله صورت کي...او داسي نور.

۸ــــ د حکم توري ښه واضح صحیح او فصیح لیکل، لکه: په ذکر شوي صورت کې لمونځ فاسدیږي... یا لمونځ صحیح دی او اعاده نه غواړي او داسي نور... [۷]

۹ــــ په جواب او فتوی کې مستفتي ته د خطاب دتورو نه اجتناب (ډډه) کول، لکه: ستا لمونځ اعاده غواړي، او یا ستا لمونځ فاسد شوی دی او داسي نور...

۱۰ـ د جواب په تورو کې له خپلي مدحي ځان ژغورل لکه: د ډېرو هڅو په نتېجه کې مې ... یا په دې هکله مې جامع او پوره تحقیق کړی... یا بهترین تحقیق مې وکړ...یا نور.

۱۱ــــ بیا څو واره د حکم توري تر نظر تېرول چې سهو یا املائي غلطي خو به پکښې نه وي.

۱۲ــــ که یو مسئله اجزاء ولري، باید اول د استفتاء د ټولو اجزاوو حکمونه و لیکل سي، او بیا دې علی الترتیب حواله جات و لیکل شي، تر څو په مسئله کې تفرق واقع نه شي.[۸]

۱۳ــــ په یوه صفحه کې باید یوه استفتاء او حکم و لیکل سي، دوې استفتاوې دې په یوه پاڼه کې نه لیکل کیږي. [۹]

۱۴ـ کومه مسئله چې اختلافي وي، د حکم لیکلو پر مهال باید مفتي خپله رایه اظهار کړي، چې دده په اند کوم لوری راجح ده.[۱۰]

۱۵ــــ کله چې حکم لیکل کېږي، باید د مفتي خپل قول او د کتاب له عباراتو وروسته حواله دا دوه باید یوه اندازه په واړه خط ولیکل شي. [۱۵]

۱۶ــــ او دا باید په یاد ولرل شي چې د حکم یا د فتوی توري به له وروستنیو حوالو څخه په ښه دقت سره اخذ شوي وي تر دې که یو قید د یوه کتاب په

عبارت کې وي او بل قید په بل کتاب کې وي نو هغه دې دواړه را واخستل سي او په نص الحکم کې دي ذکر کړل سي. همدا راز کله چې د یوې مسئلې د اثبات د دلائلو عبارات ټول یو ډول وي، زیادت او کمبود په کښې نه وي، د درې کتابونو له عباراتو لیکلو وروسته باید صرف داسې و لیکل شي: (کذا في فلان و فلان) د ټولو کتابونو عبارات لیکل بې ګټې طوالت راولي، البته که ځیني عبارات پر ځینو نکتو مشتمل وو په داسې صورت کې یې لیکل ضروري دي. [۱۳]

۱۷ـ کله چې حکم ولیکل سي او دا غواړي چې د مصادرو حوالې نقل کړل شي نو باید د عبارت نه وړاندې داسې توري ولیکل سي: لما في البحرالرائق: ۲۲/۲.یعنې د کتاب نوم، بیا شارحه، بیا د جلد عدد، بیا سلاش، بیا د صفحې عدد.

یا داسې :کما في البحرالرائق: ۲۲/۲.یعنې د لما پر ځای کما راوړل کېدای سي. لما د حکم د تعلیل په موخه او کما لکه د لیکل سوي حکم د شاهد او نظیر په څېر لیکل کیږي، د لومړی حوالې سره واو عاطفه نه لیکل کیږي یوازې (لما) لیکل کیږي، او د وروسته حوالو سره واو عاطفه لیکل کیږي لکه: و لما في الهندیة...او داسي به وروسته د هري حوالې سره په سر کې واو عاطفه لیکل کیږي.

او داسې توري لکه: (والدلیل علیه ما في البحرالرائق:۲۲/۲...یا و الحجة علیه ما في البحرالرائق:۲۲/۲.) ښه نه لګېږي او بل خو دغه مفهوم په لومړنیو تورو کې خپله موجود دی مع الایجاز. البته که استفتاء د تخریج په طریقه لیکل کېږي یعني چې د نص الحکم د لیکلو څخه وروسته د خط لاندي حوالې ولیکل سي لکه تخریج نو بیا که د (و الدلیل علیه)کلمات په سر کې و لیکل سي پروا نه لري بلکه دا د استفتاء د لیکلو ښه او جدیده طریقه ده.

۱۸ـ که کتاب په یوه جلد کې و، لکه: فتاوی النتف یا فتاوی سراجیه او داسې نور... نو په دې صورت کې د کتاب له نوم څخه وروسته یوائې (ص) لیکل کیږي او بیا ورپسې سلاش یا شارحه او له هغه وروسته د صفحې عدد ذکر کېږي، لکه: النتف:ص/۳۳.

او که کتاب ډېر جلدونه لري، نو بیا لمړی د جلد عدد لیکل کیږي او بیا سلاش یا شارحه او له هغه څخه وروسته د صفحې عدد ذکر کېږي او بیا ډاټ(ټکی) لکه: لما في البحرالرائق:۲۲/۲.

۱۹ــــ هره حواله په خپل خپل ځای لیکل په ترتیب سره ضروري ده: یعنې لمړی هغه حواله لیکل چې له کتابو د تفسیره وي، بیا هغه حواله لیکل چې له کتابو د احادیثو وي بیا هغه حواله لیکل چې د شروح الأحادیث څخه وي بیا هغه

حواله لیکل چې د کتب ظاهر الروایة څخه وي، بیا د هغه کتاب حواله لیکل چې له متونو څخه وي، بیا د هغه کتاب حواله لیکل چې د شروحو څخه وي، بیا د حواشي بیا د فتاواوو څخه هکذا...او که دوې یا تر دوو زیاتي حوالې د یوې مرتبې څخه وي، نو بیا به هغه د مصنفینو د وفات د تاریخ په اعتبار لیکل کیږي، چې د هر یوو د وفات تاریخ مخته وي د هغه د کتاب حواله به مخته لیکل کیږي.

۲۰ــــ له ګډوډو حوالو لیکلو څخه ځان ساتل هم ضروري دي ، مثلا : لمړی د یوې فتاوی بیا د یوې شرحې یا حاشیې بیا د یو متن بیا د حاشیې بیا د کومي فتاوی بیا د کوم متن حوالې لیکل. همدا ډول لمړی د کتابونو حوالې او وروسته حدیثونه یا آیاتونه لیکل غلطه طریقه ده.

۲۱ــــ د کتاب نوم ته له دوو جهتو ښه متوجه کېدل یو دا چې باید صحیح تلفظ ولیکل شي، او ترکیبي حالت یې باید صحیح وي. او داسي نه چې په توصیفي اسم کې د اضافت طریقه او په اضافي نوم کې د توصیف طریقه اختیار کړل شي. مثلا : درالمختار او الردالمحتار باید و نه لیکل شي،بلکي الدر المختار یا در مختار او رد المحتار ولیکل سي .

۲۲ـــــد کتاب په متعددو اسماؤو کې باید مشـهور او اصـلي نوم ولیکل شي،لکه:د ردالمحتار متعدد اسماء دي: یعنې شامي، حاشیه ابن عابدین، او ردالمحتار، نو دلته باید داده پای نوم ولیکل شـي، ځکه همدایې اصـلي نوم دی. او فتاوی شامي لیکل غلط دي، ځکه دا حاشیه ده.

۲۳ـــاو هم باید په نوم اکتفاء وشي او داسي و نه لیکل شي، لکه: ردالمحتار حاشـیه الدرالمختار یا علی الدرالمختار، البته که عبارت د یوو کتاب د بل کتاب پر هامش یا بیاض باندي وي، لکه: عبارت د درمختار پر هامش د ردالمحتار یا بیاض د ردالمحتار وي، بیا که داسـي ولیکل شـي: درمختار علی هامش ردالمحتار او یا علی بیاض ردالمحتار او داسـي نور پروا نلري. [۱۱]

۲۴ـــاو نه باید د یوه کتاب ټول نومان ولیکل شي، لکه: في الفتاوی الخانیة المعروف بقاضیخان او داسي نور... إلا في محل الضرورة.

۲۵ـــــهمداراز که د یوه کتاب عربي او غیر عربي اسمونه وي، نو عربي یې لیکل اولی دي، لکه: الفتاوی الهندیة چې بل نوم یې فتاوی علمګیریه ده، او لکه: الفتاوی الخانیة چې بل نوم یې فتاوی قاضـیخان ده، په دواړو کې باید لمړي نومونه ولیکل شي.

۲۶ـــ او که په یوه نوم ډېر کتابونه وي، لکه: مبسوط مثلا نو بیا دي له کتاب سره د مصنف نوم لیکي، مثلا : في مبسوط للسرخسي(رحمه الله تعالی) ، یا في المبسوط للإمام محمد(رحمه الله تعالی) یا في مبسوط فخر الإسلام(رحمه الله تعالی) وغیره.

همدا راز څرنګه چې طحطاوي دوې دي، باید د حوالې پر مهال مشخصه کړله شي، چې مطلوب په حواله کې الطحطاوي علی مراقي الفلاح ده، او که الطحطاوي علی الدر المختار ده، صرف الطحطاوي لیکل ابهام پیښوي. [۱۲]

۲۷ـــ څرنګه چې بېلا بېلو علماء کرامو بېلابېلي رسائل لیکلي دي او بیا یې د مجموع الرسائل په نامه سره را غونډ ي کړې او یو ځای یې چاپ کړې دي، لهذا که د یو عالم مجموع الرسائل ته حواله ور کول کیږي، باید د هغه عا لم نوم ورسره و لیکل شي، لکه: مجموع الرسائل لابن عابدین تر څو کتونکی په اشتباه کې واقع نه شي. [۱۴]

۲۸ـــ ډېر وختونه یو مصنف علیه الرحمة د بل کتاب عبارت را نقل کړي وي، باید هغه قول صاحب قول ته منسوب سي، صاحب نقل ته یې نسبت و نه کړل شي. [۱۶]

۲۹ــ که کوم کتاب په متعددو نسخو کې چاپ وي، نو بيا چې له هري نسخې څخه عبارت نقل شوی وي د هم هغه نسخې طبع دي هم ورسره ذکر شي، لکه: ردالمحتار چې متعددي نسخې لري، لکه: بيروتی په اوه(۷) ټوکه کې، مصری په شپږ(۶) ټوکه کې، بيروتی جديده په دوولس(۱۲) ټوکه کې، نو داسي دي وليکل شي: رد المحتار: ۳۴/۲،ط : دار الكتب العلمية بيروت. او يا دي د ردالمحتار تورو پر سرعدد دجلدو د دغې نسخې وليکي،يا ۶یا۷یا۱۲ [۲]

۳۰.او که په وړاندي صورت کې د باب، فصل، او مطلب نوم هم ورسره وليکل شي نو نور على نور دی.

۳۱ــــاو که کوم کتاب په متعددو نسخو کې چاپ نه وي، نو بيا که مطبعه، باب، او فصل ونه ليکل شي هيڅ پروا نلري، لکه: هنديه چې تر اوسه کومه بله نسخه نه لري.

۳۲ـ همدا راز که کله د جواب فقهي عبارات د يوه کتاب په غير موضعه يا غير مشــهور ځای کې وي، نو بايد د عبارت د وقوع ځای په فصــل،باب او هم نور پوره وضاحت سره ذکرشي.

۳۳ـــــ له اردو پښتو کتابو څخه عبارات کټ مټ را نقل کول ځان ته دهوکه ورکول دي، البته که یو مفتي صاحب د استفتاء حکم له بل عربي کتاب څخه را نقل کړی وي، بیا اردو پښتو فتاواوې د حکم د تائید لپاره نقلول تر څو ځان ته پوره معلومات وکړي دا پروا نه لري. [۱۷]

۳۴ـ د اردو پښتو فتاواوو د حوالو په را نقلولو سره اکتفاء و نه شي، تر څو چې یې اصلي عربي مرجع او مأخذ کتلی نه وي، البته که چېرته په یوه معاصره فتاوی کې د کوم بل کتاب حواله و موموا او هغه کتاب له موږ سره نه وي، نو که موږ د هغه کتاب حواله نقل کوو باید دثاني مصدر حواله یې نقل کړو مثلا: في الفتاوی المهدیه:۲۲/۱...او په اخېر کې و لیکو بحواله أحسن الفتاوی:۲۳۴/۳. [۱۸]

۳۵ـ همدا راز به تر خپله وسه د کمپیوټر له مکتبو څخه استفاده نه کول کیږي، او که د مجبوری په مهال د کمپیوټر له مکتبې شاملې، مکتبه مشکاة، یا موسوعې څخه د مذهب د کوم کتاب حواله نقل کولو ته ضرورت وي، نو بیا دي د دې مکتبې په پوره حواله سره باید نقل کړل شي. [۱]

۳۶ـ باید په خپل ټول توان سره کوښښ وسي چې حواله د متقدمینو مصنفینو له کتابو څخه ورکړل شي،

او ورسره سره باید حوالې تر درې کمي نه وي، تر څو مسئله مورد د اعراض نه سي او اعتبار و وومومي. [۳]

۳۷ـــــ هغه کتابونه چې مذاهب اربعه بیانوي، لکه: (الموسوعة الفقهية او داسي نور...) صرف د تائید لپاره کارولای شي،

حکم باید یوائې له داسي کتابونو څخه ورنکړل سي، چې دغه حکم صرف په دې کتابونو کې وي، او د مذهب حنفي په نورو کتابونو کې ونه موندل شي. [۴]

۳۸ـــ له هري حوالې سره د عدد لیکل، یعني له لمړۍ سره د یوه (۱) عدد لیکل او داسي له دوهمي حوالې سره د دوو (۲) عدد لیکل و هکذا..۳، ۴، ۵.

۳۹ـــ کله چې حوالې پای ته ورسېدې، نو په مستقل سطر کې که وسعت وي د (والله تعالی أعلم) توري به لیکل کیږي، او والله أعلم به نه لیکل کیږي، او نه به دا توري ورزیاتوي وعلمه أتم وأکمل و أحکم او غیره.

۴۰ـــــ بیا به په لاندي سطر کې د (کتبه: عبدالله عفی عنه) مثلا توري لیکل کیږي، یعني د کتبه توري او بیا شارحه او بیا لیکونکي خپل نوم.

۴۱ـــــ بیا د مجلس نوم او ځای یا مدرسې نوم لیکل، یعني (المجلس الفقهي للإمام البخاري (رحمه الله تعالی) المنعقد في الجامعة العثمانية أو

الجامعة تجوید القرآن أو غیرهما) یا المتخصـص فی الجامعة الاسـلامیة او نور. توري لیکل.[۶]

۴۲ـ او بیا د فتوی د لیکلو اسلامي تاریخ لیکل، او هغه هم د راسته لوري څخه پیـل کول، یعنې لمړی د ورځ بیـا د میاشــت او بیـا د کـال عـدد لیکـل، لکـه: ۱۴۴۱/۱۱/۱۳.

۴۳ــــــ په مبیضــه به تر خپل توان د خوشـخطي رعایت کوي، د خط پونټ به متوسـط، له اختلاط څخه مامون او له رنګنیو څخه محفوظ وي، همدا راز به د سره، زرغونه او نور بې ډوله سیاهي له استعمال څخه ډډه کوي، ښه داده: چې یوائې تور یا شین قلم استعمال شي.

۴۴ــــ د پښـتو په برخه کې دي د أصول التحریر (پښـتو لیکدود] او د عربي په برخه کې دي د الإملاء و الترقیم د قواعدو رعایت و ساتل شي.

یادونه:

هغه اصــول چې په پای کې یې یو عدد په قوسـینو کې لیکل شـوی دی هغه د فقهي مجالســو د کمیسـیون له خوا و فقهي مجالسـو ته ټاکل شـوي دي، چي ټول (۱۸) دانې دي، نو د هغو عملي کول تر هغـه نورو ډیر ضــروري دي، او

دغه عدد وهغه عدد ته اشـاره ده او پاتي (۲۶) اصـول د فتوی د ليکلو لپاره مناسب دي،او هغه دنور کتابونو څخه رااخستل سويدي .

أخذت هذه الأصـول من الدروس في أصـول الإفتاء و آدابه للمفتي محمد طاهر الكوه بندي(مد ظله العاليه) ص:۶۹.۷۷،

و من الأصـول المقررة للمجالس الفقهية من الإمارة الإسـلامية.باختصـار و تغير.

الفرق بين الحكم والقاضى

١_ للقاضى الولاية العامة وليس للحاكم الولاية العامة

٢_ القاضى يقضى فى الحدود والقصاص والديات والحكم ليس كذالك

٣_ حكم القاضى متعد وأما حكم الحكم ليس بمتعد

٤_يشترط فى الحكم رضائية الطرفين ولا يشترط فى القاضى رضائية الطرفين

٥_ للطرفين عزل الحكم لا عزل القاضى

٦_ يقضى القاضى على الصغير ضررا ونفعا وليس الحكم كذالك

٧_ بحكم القاضى يرد المبيعة المعيوبة على المشترى الأول ولا يرد بحكم الحكم

٨_ يحكم القاضى فى الأوقاف والدولتية ولا يحكم الحكم

٩_ حكم القاضى مقيد بمرور الزمان لا حكم الحكم

١٠_ يصلح الحكم ولا يصلح القاضى

١١_ القاضى يرد حكم الحكم ولا يرد الحكم حكم القاضى

١٢_ كتاب القاضى إلى القاضى جائز ولايجوز كتاب الحكم إلى الحكم

الحاكم كالقاضي الا في أربع عشرة مسألة:

لمافي غمز عيون البصائر (٣٦٦ / ٢).

قوله: الحاكم كالقاضـي إلا في أربع عشـرة مسألة إلخ. أقول بل في خمس عشرة كما في شـرحه على الكنز والخامسـة عشـر لا يتقيد حكمه ببلد التحكيم، وله الحكم في البلاد كلها (انتهى)

ويزاد عليهـا مـا في القنية من باب التحكيم: لا يجوز اسـتخلاف الحكم غرماء الصـبي (انتهى)

(١٧٥)قوله: وفيه أن حكمه لا يتعدى إلا في مسألة. وهي كما في التلخيص وشرحه: لو حكم على الشـريـك تعـدى إلى الغائب؛ لأن حكمه بمنزلة الصـلح في حق الشـريك الغائب، والصـلح من صنيع التجار فكان كل واحد من الشريكين راضيا بالصلح، وما في معناه

لمافي رد المحتار: (٥/ ٤٢٢)

(قوله: الحاكم كالقاضي) في بعض النسخ المحكم وهو الذي في البحر والأشباه.

(قوله: إلا في أربع عشرة مسألة) سيأتي في آخر باب التحكيم أنه في البحر عدها **سبعة عشر، ويأتي بيانه هناك مع زيادة عليها.**

لمافي درر الحكام في شرح مجلة الأحكام (٤/ ٦٣٧) مادة: ١٨٤٩)

إن المحكم ليس كالقاضي في بعض المسائل ونذكر هنا بعضها على الوجه الآتي (رد المحتار) المسألة الأولى: يشترط لصحة حكم المحكم رضاء المحكمين (بكسر الكاف) أما حكم القاضي فيصح ولو لم يرض به المدعى عليهم.

المسألة الثانية: لا يجوز التحكيم في الدية عن الحد والقود والعاقلة مع أنه يجوز حكم القاضي في ذلك.

المسألة الثالثة: للمحكمين عزل المحكم قبل الحكم وليس لهما عزل القاضي.

المسألة الرابعة: لا يتعدى حكم المحكم في الرد بالعيب بائع البائع أما حكم القاضي فيتعدى إذا كان مبنيا على بينة.

المسألة الخامسة: إذا كان حكم المحكم مخالفا لرأي القاضي فيبطله، أما حكم القاضي فلا يبطله قاض آخر ما لم يكن مخالفا للكتاب أو السنة أو إجماع الأمة المسألة السادسة:

لا يلزم الوقف بحكم المحكم ولا يرتفع لخلاف والعكس في حكم القـاضـي إذ يلزم ويرفع الخلاف.

المسـألة السـابعة: لا يحوز عند أبي يوسف تعليق وإضافة التحكيم. المسألة الثامنة: لا يكتب المحكم للقاضي كتابا حكميا كما أنه لا يكتب القاضي إلى المحكم كتابا حكميا.

المسـألة التاسـعة: لا يتعدى حكم المحكم الصـادر في مواجهة أحد الورثة إلى الورثة الآخرين كما أنه لا يتعدى حكمه على الوكيل بالبيع برد المبيع بخيار العيب إلى الموكل كما أن حكم المحكم لا يسـري على كافة الناس في دعاوى النسـب والحرية والنكاح والولاء رد المحتار ".

{الفروق بين القضاء والافتاء}

واعلم ان الفتوى والقضـــاء يكون بـاالقول الراجح وبـاالقول المرجوح يكون خلاف الاجماع واتباع الهوى قال اليعمرى في اصـول الاقضية ولافرق بين المفتى والحاكم الا ان المفتى مخبر بـا الحكم،والقـاضـي ملزم بـه،ثم نقل بعده :واما الحكم والفتيا بماهو مرجوح فخلاف الاجماع.

وقـال العلامة قاسـم بن قطلوبغا فى تصـحيح القدوري"اني رايت من عمل في مذهب أئمتنا با التشـهي،حتى سـمعت من لفظ بعض القضـاة"هل ثم حجر؟"فقلت:نعم!اتباع الهوى حرام، والمرجوح في مقـابلـة الراجح بمنزلـة العـدم والترجيح بغيرمرجح فى المتقابلات ممنوع فاالمفتي والقاضـي بهذه الوجه متحدان: ولكن بينهما فروق بوجوه اخرى :اذكر نبذة منها

الاول: الفتوى اخبار عن الحكم الشرعي والقضاء أنشاء للحكم بين المتخاصمين

الثاني :ان الفتوى لا الزام فيها للمستفتي او غيره بل له ان ياخذ بها ان رآها صوابا اويتركها والحكم القضائي ملزم

الثالث: ان قضـاء القاضـي بما يخالف فتوى المفتى نافذ ولا يعد نقضـا لقضـاء سـابق بخلاف القضاء بما يخالف قضاء سابقا انه لاينفذ {الموسوعة الفقهية}

الرابع :ان المفتي يفتي با الديانة ــــ اى على باطن الامرــــ ويدين المسـتفتي ،والقاضـى يقضى على الظاهر. {الدرالمختار}

الخامس: ان القضاءلايكون الا بلفظ منطوق وتكون الفتيا باالكتابة والفعل والاشارة

السادس :ان الفتوي حكم كلى يكون للمتخاصمين وغيره والقضاءحكم جزئي خاص با المتخاصمين

السابع : ان الفتوى تتعلق باالعقائد والعبادات والقضاءلايتعلق بهما الاتبعا

الثامن :ان الفتوى تجرى فيما يترتب عليه الوجوب اوالحرمة اوالندب اوالكراهة والقضاء لايجرى فيهم والقضاء اجبار والزام

التاسع :ان الفتوى مبنية على سوال السائل فيبين المفتى الجواب على فرض وقوع سوال السائل ولايلزم تحققه با البينة :ويلزم فى القضاء ان يكون الواقعة المطلوبة حلها واقعية.

كتاب الأحاديث

يعني: داحاديثو متعلق مسائل اوپوښتني.

بسم الله الرّحمن الرّحيم

حديث «ست خصال تورث النسيان» څنګه حديث دی؟.

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

بعض خلګ وايي چې دغه حديث موضوعي دی ، څنګه داخبره اشتباه ده اوکه څنکه «ست خصال تورث النسيان. . .؟ بينوا تؤجروا

المستفتي: نا معلوم   تاريخ:۷/ ۱۱/ ۱۴۴۱هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلّياً وبعد: هو ، دا خبره صحيح ده دغه حديث ته علماء كرامو موضوعي ويلی دی.

لماقال العلامة زين الدين المعروف بابن نجيم المصري (المتوفى: ۹۷۰هـ)

نكتة قيل ست تورث النسيان سؤر الفأرة وإلقاء القملة وهي حية والبول في الماء الراكد وقطع القطار ومضغ العلك وأكل التفاح ومنهم من ذكره حديثا لكن قال ابو الفرج بن الجوزي: إنه حديث موضوع.

البحر الرائق شرح كنز : (ج ١ / ص ١٤٠) ط: دار الكتاب الاسلامي

ولماقال العلامة محمد امين بن عابدين الدمشقي(المتوفى: ١٢٥٢هـ)

[نكتة] قيل ست تورث النسيان: سؤر الفأرة، والقاء القملة وهي حية، والبول في الماء الراكد، وقطع القطار، ومضغ العلك، وأكل التفاح، ومنهم من ذكره حديثا، لكن قال ابو الفرج بن الجوزي إنه حديث موضوع بحر وحلية، وإطلاق التفاح هنا موافق لما في كتب الطب من أنه أكله مورث للنسيان. وذكر بعضهم الحديث مقيدا التفاح بالحامض.

(رد المحتار) - (ج ١ / ص ٤٢٨).

وفى تذكرة الموضوعات :(ج ١ / ص ٧١).

في الذيل أنس "عشر خصال تورث النسيان أكل الجبن وأكل سؤر الفأرة وأكل التفاح الحامض والجلجلان والحجامة على النقرة والمشي بين امرأتين والنظر الى المصلوب والبول في الماء الراكد وإلقاء القمل في المقبرة" فيه محمد بن تميم وضاع.

وفى الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة - (ج ١ / ص ٤٣٣)

ومنها أن يكون الحديث باطلا في نفسه فيدل بطلانه على أنه ليس من كلامه صلى الله عليه وسلم...

وحديث ست خصال تورث النسيان أكل سؤر الفأر والقاء القمل في النار والبول في الماء الراكد ومضغ العلك وأكل التفاح الحامض وقطع القطار.

وفي السعاية في كشف ما في شرح الوقاية(ج ١ / ص ٥٣٢)

فائدة قيل ست تورث النسيان سور الفارة والقاء القملة وهي حية والبول في الماء الراكد وقطع القطار ومضغ العلك واكل التفاح ومنهم من ذكر فيه حديثا لكن قال ابن الجوزي انه حديث موضوع كذا في البحر وحلية المحلى.

وفي المنار المنيف في الصحيح والضعيف: (ج ١ / ص ٥٩) (٨٦)

وكحديث ست خصال تورث النسيان أكل سؤر الفأر والقاء القمل في النار وهي حية والبول في الماء الراكد وقطع القطار ومضغ العلك وأكل التفاح الحامض.

په حديثو کښې ځېني داسې الفاظ سته چې موزون وي؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

په حديثو کښې ځېني داسې الفاظ سته چې موزون (وزن والا) وي ايا داسې موزون الفاظو ته شعر ويل کېږي او که نه ؟بينوا تؤجروا

المستفتي: مولوي تاج محمد صاحب — تاريخ: ۱۵/ ۵/ ۱۴۴۱هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد : شعر هغو الفاظو ته ويل کېږي چې موزون وي، او په قصد دوزن جوړ شوی وي ،او څرنګه چې دحديثو ځېني الفاظ دشعر په وزن برابر دي مګر رسول الله ﷺ موزونيت پکښې مقصد نه و نو لهذا شعر نه ورته ويل کېږي .

لما قال العلامة زين الدين المعروف بابن نجيم(المتوفى: ٩٧٠هـ)

وفروع ذلك كثيرة وتجري هذه القاعدة في العروض أيضـــا، فإن الشــعر عند اهله كلام موزون مقصود به ذلك، اما ما يقع موزونا اتفاقا لا عن قصد من المتكلم فإنه لا يسمى شعرا، وعلى ذلك خرج ما وقع في كلام الله كقوله تعالى: {لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون} وفي كلام رسول الله صلى الله عليه وسلم كقوله: هل أنت الا إصبع دميت وفي سبيل الله ما لقيت.

الأشباه والنظائر لابن نجيم (ص: ٤٧) ط: رشيدية.

وفي الموسوعة الفقهية الكويتية (٢٦/ ١١٢).

والشعر في الاصطلاح : الكلام المقفى الموزون على سبيل القصد...

وإصابة النبي صلى الله عليه وسلم وزن الشعر لا يوجب أنه يعلم الشعر ، وكذلك ما يأتي من نثر كلامه مما يدخل في وزن كقوله صلى الله عليه وسلم : هل أنت الا أصبع دميت وفي سبيل الله ما لقيت وقول صلى الله عليه وسلم : أنا النبي لا كذب أنا ابن عبد المطلب.

فقد يأتي مثل ذلك في آيات القرآن الكريم كقوله تعالى : { لن تنالوا البر حتى تنفقوا مما تحبون } وقولــه ســبحــانه : { نصــر من الله وفتح قريب } وقوله عز وجل : { وجفان كالجواب وقدور راسيات } الى غير ذلك من الآيات ، وليس هذا شعرا ولا في معناه ، ولا يلزم من ذلك أن يكون النبي صــلى الله عليه وســلم عالما بالشعر ولا شاعرا ؛ لأن إصابة القافيتين من الرجز وغيره من غير قصــد كما قال القرطبي ، لا توجب أن يكون القائل عالما بالشعر ولا يسمى شاعرا ، كما أن

من خاط خيطا لا يكون خياطا ، قال ابو إسحاق الزجاج : معنى { ما علمناه الشعر } وما علمناه أن يشعر ، أي ما جعلناه شاعرا ، وهذا لا يمنع أن ينشد شيئا من الشعر .

وفي تفسير الالوسي = روح المعاني (١٢/ ٤٦)

وأيا ما كان لا يرد أنه عليه الصلاة والسلام قال يوم حنين وهو على بغلته البيضاء وابو سفيان بن الحارث آخذ بزمامها ولم يبق معه عليه الصلاة والسلام من الناس إلا قليل – أنا النبي لا كذب أنا ابن عبد المطلب– لأنا لا نسلم أنه شعر فقد عرفوه بأنه الكلام المقفى الموزون على سبيل القصد وهذا مما اتفق له عليه الصلاة والسلام من غير قصد لوزنه ومثله يقع كثيرا في الكلام المنثور ولا يسمى شعرا ولا قائله شاعرا، ولا يتوهم من انتسابه صلى الله عليه وسلم فيه إلى جده دون أبيه دليل القصد لأن النسبة الى الجد شائعة ولأنه هو الذي قام بتربيته حيث توفي ابوه عليه الصلاة والسلام وهو حمل فحين ولد قام بأمره فوق ما يقوم الوالد بأمر الولد ولأنه كان مشهورا بينهم بالصدق والشرف والعزة فلذا خصه بالذكر ليكون كالدليل على ما قبل او كمانع اخير من الانهزام ولأن كثيرا من الناس كانوا يدعونه عليه الصلاة والسلام بابن عبد المطلب.

وكذا في في شرح المجلة للسليم روستم باز: ١/ ١٥).

دغه حديث« المغتاب والمستمع شريكان في الاثم » صحيح دی که نه؟

الاستفتاء: محترم شيخ صاحب!

امام غزالي رحمه الله په احياء علوم الدين کي دغه حديث ذکر کړی «قال صلى الله عليه وسلم المغتاب والمستمع شريكان في الاثم » داصحيح دی که نه؟بينوا تؤجروا

الجواب بتوفيق الله تعالى

محترمه دغه الفاظ ثابت ندي خو معنى ددغه حديث دبل حديث څخه واضح ده من حديث ابن عمر مرفوعا ان النبى صلى الله عليه وسلم نهى عن الغيبة وعن الاستماع الى الغيبة اوخاص دغه الفاظ المغتاب والمستمع شريكان في الاثم.

داحافظ عراقى ملاعلى قاري علامة قاؤقجى علامه خليلى علامه نجم الدين غزى علامة عبدالكريم غزى علامة امير كبير مالكى علامة زرقانى ددغه ټولو محدثينو د تصريحات مطابق دغه الفاظ ثابت ندي نو ورسول الله صلى الله عليه وسلم ته ئي نسبت كول هم ندي جائز

احياء علوم الدين ص۲۳۵ طبقات الشافعية ج٦ ص۲۹۹

المغنى عن حمل الاسفار ص۱۸۵ اتحاف ج۴ ص۴۱۱

المقاصد الحسنة ص٦١٢ تميز الطيب ص۱۷۴ تذكيرة

الموضوعات ص۱۷۰ الاسرار المرفوعة ص۳۲۲ تسهيل

السبيل ص۱۲۳ اتقان مايحسن ج۱ ص۵۴۵ الجد الحثيث

في بيان ماليس بحديث ص۸۵ الكشف الخفاء ج۲ ص ۲۱۵

د أذان په دعاء کې دغه توري سته (والدرجة الرفيعة)؟

الاستفتاء: محترم مفتي صاحب!

د أذان په دعاء کې دغه توري په حديث يا يو بل معتبر كتاب کې (والدرجة الرفيعة)سته او كه نه؟بينوا تؤجروا !

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد: دغه مذکوره الفاظ د أذان په دعاء کې نسته، نه په حديث کې سته او نه په يو معتبر کتاب کې سته.

وفي (رد المحتار) (١/ ٣٩٨).

قال ابن حجر في شـرح المنهاج: وزيادة والدرجة الرفيعة وختمه بيا أرحم الراحمين لا أصل لهما. اهـ.

وفي حاشية الطحطاوي على مراقي: (ص: ٢٠٥).

قال السخاوي في المقاصد الحسنة وزيادة والدرجة الرفيعة كما يفعله من لا خبرة له بالسنة لا أصل لها في الدعاء الوارد ذكره الشهاب في شرح الشفاء.

وفي العرف الشذي شرح سنن الترمذي (١/ ٢٢٣)

واما زيادة «والدرجة الرفيعة» فليس لها أصل.

وفي فيض الباري على صحيح البخاري (٢/ ٢١٤)

واما زيادة: «والدرجة الرفيعة» بعد قوله: «والوسيلة والفضيلة». فلم تثبت عندي في حديث، فلا يزاد بها، لأنها زيادة في خلال الكلمات، ومن كان لا بد له أن يزيد في تلك الكلمات، ففي الاخير كما ثبت عن ابن عمر رضي الله عنه: «أنه كان يزيد في تلبيته في الاخير: «لبيك وسعديك» ... إلخ.

وفي مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح (٢/ ٥٦١)

وَأَمَّا زِيَادَةُ: " وَالدَّرَجَةَ الرَّفِيعَةَ " الْمُشْتَهَرَةِ عَلَى الأَلْسِنَةِ فَقَالَ السَّخَاوِيُّ: وَلَمْ أَرَهُ فِي شَيْءٍ مِنَ الرِّوَايَاتِ.

وفي المصنوع في معرفة الحديث الموضوع (ص: ١٠٠)

١٣٢ حديث الدرجة الرفيعة فيما يقال بعد الأذان قال السخاوي لم أره في شيء من الروايات.

وكذافي اعلاء السنن: ٢/ ١٢٨).

وكذافي منهاج السنن: ١/ ٥۴).

وكذافي كفاية المفتي: ٣/ ۶٠).

وكذافي مجموعة الرسائل لمفتي عبدالرؤف صاحب: ۶/۱۱۶).

حديث د «علماء امتي كانبياء بني اسرائيل »څنګه حديث دى؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

حديث د «علماء امتي كانبياء بني اسرايېل »څنګه حديث دي بعض علماء وايي چې دا موضوعي دى؟ بينوا تؤجروا

المستفتي: حكمت تاريخ: ۶/ ١١/ ١۴۴١هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد : دغه حديث كه څه هم معناً صحيح دى خو متنا موضوعي دى.

لماقال العلامة أحمد بن محمدالطحطاوي الحنفي – توفي ١٢٣١ هـ

وفي رواية اخيرى: "علماء امتي كانبياء بني إسرائيل" قال بعضهم: هذا الحديث لا أصل له ولكن معناه صحيح لما تقرر أن العلماء ورثة الانبياء. قاله ابن حجر في "شرح الهمزية"

حاشية الطحطاوي على مراقي(ص: ٨)

وفى المصنوع في معرفة الحديث الموضوع (ص: ١٢٣) رقم (١٩٦)

حديث علماء امتي كانبياء بني إسرائيل لا أصل له كما قال الدميري والزركشي والعسقلاني.

وفى الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة (ص: ٢٤٧)<

علماء امتي كانبياء بني إسرائيل – قال الدميري والعسقلاني لا أصل له وكذا قال الزركشي وسكت عنه السيوطي.

وفى شم العوارض في ذم الروافض (ص: ٨٦).

وَبهَذَا ظهَرَ صِحة مَعنَى مَا اشتهر عنه عَلَيه الصَّلاة وَالسَّلام: ((علماء امتي كانبياء بني إسرائيل))

وفى عمدة الرعاية بتحشية شرح الوقاية:(١/ ٥٧).

فكم من احـاديث ذكرت في الكتب المعتبرة وهي موضــوعة ومختلقة: كحديث... وحديث: ((علماء امتي كانبياء بني إسرائيل)، الى غير ذلك.

وايضافى كشف الخفاء:(٢/ ٧٤) رقم (١٧٤٤).

د دغو دواړو احاديثو په هکله خو معلومات راکړئ؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

د دغو دواړو احاديثو په هکله خو معلومات راکړئ ايا دا څنګه احاديث دي ، صحيح دي او موضوعي يعني : دکومې درجې احاديث دي؟بينوا تؤجروا

(١) « لَولَاكَ لَمَا خَلَقتُ الأَفلَاكَ»

(٢) «حُبِّ الوَطَنِ مِنَ الإِيمَانِ»

المستفتي: محمد تاريخ: ۲۴/ ۷/ ۱۴۴۱هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصليّاً وبعد : اول حديث خو په دغه الفاظو موضوعي دى ، لېکن مضمون يې دنورو رواياتو او احاديثو څخه ثابت دى نو لفظاً موضوعي سو او معناً ثابت اوصحيح سو .

وفي المصنوع في معرفة الحديث الموضوع - (ج ١ / ص ١٥٠) (٢٥٥)

لولاك لما خلقت الأفلاك قال الصغاني موضوع.

وفي الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة - (ج ١ / ص ٢٩٥) (٣٨٥)

حديث/ لولاك لما خلقت الأفلاك / قال الصغاني إنه موضوع كذا في الخلاصة لكن معناه صحيح فقد روى الديلمي عن ابن عباس رضي الله عنهما مرفوعا، أتاني جبريل فقال يا محمد لولاك ما خلقت الجنة ولولاك ما خلقت النار وفي رواية ابن عساكر لولاك ماخلقت الدنيا.

وفي شرح الشفا - (ج ١ / ص ١٣).

كما روي لولاك لولاك لما خلقت الأفلاك فإنه صحيح معنى لو ضعف مبنى.

اما دويم: حديث چې دی ، دهغه مختلف تفسيرونه سوي دي.

(١)دوطن څخه جنت اخيستل.

(٢)دوطن څخه مكة مكرمة اخيستل.

(٣)دوطن څخه اصلي وطن اخيستل خو په شرط د دې چې دغه حب به د صلی رحمي دوجهې څخه وي او يا به دخپل وطن د يتيمانو او فقيرانو دوجهې څخه وي.

پر دغه درو تفسيرونو باندې دغه حديث لفظاً موضوعي دی او معناً صحيح دی اما كه دطن تفسير په مطلق وطن سره وكړل سي بيا حديث هم لفظاً موضوعي دی او هم معناً موضوعي دی.

وفي المصنوع في معرفة الحديث الموضوع - (ج ١ / ص ٩١) (١٠٦)

حديث حب الوطن من الإيمان لا أصل له عند الحفاظ.

وفي الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة - (ج ١ / ص ١٨٠) (١٦٤)

حديث/ حب الوطن من الإيمان ،قال الزركشي لم أقف عليه، وقال السيد معين الدين الصفوي ليس بثابت،وقيل إنه من كلام بعض السلف ،قال السخاوي لم أقف عليه ومعناه صحيح ،وقال المنوفي ما ادعاه من صحة معناه عجيب إذ لا ملازمة بين حب الوطن وبين الإيمان ويرده قوله تعالى {ولو أنا كتبنا عليهم}) فإنه دل على حبهم وطنهم مع عدم تلبسهم بالإيمان إذ ضمير عليهم للمنافقين وتعقبه بعضهم بأنه ليس في كلامه أنه لا يحب الوطن إلا مؤمن وإنما فيه أن حب الوطن لا ينافي الإيمان انتهى

ولا يخفى أن معنى الحديث حب الوطن من علامة الإيمان وهي لا تكون الا إذا كان الحب مختصا بالمؤمن فإذا وجد فيه وفي غيره لا يصلح أن يكون علامة قبوله.

ومعناه صحيح نظرا الى قوله تعالى حكاية عن المؤمنين {وما لنا الا نقاتل في سبيل الله وقد اخرجنا من ديارنا} فصحت معارضته بقوله تعالى {ولو أنا كتبنا عليهم أن اقتلوا} ثم الأظهر في معنى الحديث إن صح مبناه أن يحمل على أن المراد بالوطن الجنة فإنها المسكن الاول لأبينا آدم على خلاف فيه أنه خلق فيه او دخل بعدما تكمل وأتم او المراد به مكة فإنها أم القرى وقبلة العالم او الرجوع الى الله تعالى على طريقة الصوفيين فإنه المبدأ والمعاد كما يشير إليه قوله تعالى {وأن إلى ربك المنتهى} او المراد به الوطن المتعارف لكن بشرط أن يكون سبب حبه صلة أرحامه وإحسانه إلى اهل بلده من فقرائه وأيتامه ثم التحقيق أنه لا يلزم من كون الشيء علامة له اختصاصه به مطلقا بل يكفي غالبا الا ترى الى حديث حسن العهد من الإيمان وحب العرب من الإيمان مع أنهما يوجدان في اهل الكفران والله المستعان.

وفي مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح - (ج ٣ / ص ١١٥٨)

واما حديث «حب الوطن من الإيمان» فموضوع، وإن كان معناه صحيحا، لا سيما إذا حمل على أن المراد بالوطن الجنة، فإنها المسكن الاول.

وكذا في أحسن الفتاوى: ١/ ٤٨٥ كتاب العلم ط: اشاعت

وكذا في فتاوى فريدية: ١/ ٢٠٦-٢٦٦ باب مايتعلق بالحديث ط:جديد

وكذا في الملتقط :ص/ ٤٨٧)لمولوي عبدالستار السيمزائي.

د «عوج بن عنق» قيصه حقيقت لري او كه نه؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

د «عوج بن عنق» قيصه حقيقت لري او كه نه ؟ بينوا تؤجروا

المستفتي:هلال تاريخ:٧/ ١١/ ١٤٤١هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصليّاً وبعد : د «عوج بن عنق» قيصه په شريعت مطهره کې هيڅ حقيقيت نه لري بلکه دا د دروغو او موضوعي قيصه ده .

وفي الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة - (٣١٩) (١٢)

ومنها أن يكون الحديث مما تقوم الشواهد الصحيحة على بطلانه كحديث عوج بن عنق الطويل الذي قصد واضعه الطعن في أخبار الانبياء فإن في هذا الحديث أن طوله كان ثلاثة آلاف ذراع وثلاثمائة وثلاثة وثلاثين وأن نوحا لما خوفه الغرق قال له احملني في قصعتك هذه وأن الطوفان

لم يصــل الى كعبه وأنه خاض البحر فوصــل الى حجزته وإنه كان يأخذ الحوت من قرار البحر فيشـويه في عين الشمس وأنه قلع صخرة عظيمة على قدر عسكر موسى وأراد أن يرضخهم بها فقورها الله في عنقه مثل الطوق.

وكذافي المنار المنيف :ص/ ۷۷ فصل :۱۷

وكذا في فتاوى الكاملية:ص/ ۳۱۹. كتاب الكراهية

وكذافي مجموعة الرسائل للسيوطي: ۱/ ۱۱۴.

وكذا في الحاوي للفتاوى: ۲/ ۳۲۶.

دروژه مات په دعاء کې : «وبک آمنتُ» په حدیث کې سته او که نه؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

دروژه مات په دعاء کې : «وبک آمنتُ» او «لصوم غد نويت من شهر رمضان» په حدیث کې سته او که نه؟بينوا تؤجروا

المستفتي:سردار تاريخ: ۷/ ۱۱/ ۱۴۴۱هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً و مصلیّاً وبعد : که څه هم په بعضو کتابونو کې دا خبره ذکر سوې ده چې دغه الفاظ ویل سنت دي ، لیکن ما دخپل وس مطابق کوشش وکړی دغه الفاظ مې په

يو صحيح حديث کې پيدا نه کړه ، او علماء وو ليکلي دي چې ، دغه الفاظ که څه هم معناً صحيح دي ليکن په حديث شريف نسته دي .

لماقال العلامة أحمد بن محمدالطحطاوي الحنفي - توفي ١٢٣١ هـ

ومن السـنـة عنـد الإفطار أن يقول اللهم لك صـمت وبك آمنت وعليك توكلت وعلى رزقك أفطرت وصوم الغد من شهر رمضان نويت فاغفر لي ما قدمت وما اخيرت.

حاشية الطحطاوي على مراقي (ص: ٦٨٣).

وفى مرقاة المفاتيح شرح مشكاة: (٤/ ١٣٨٧).

واما ما اشتهر على الالسنة " اللهم لك صمت وبك آمنت وعلى رزقك أفطرت " فزيادة، (وبك آمنت) لا أصل لها وإن كان معناها صحيحا، وكذا زيادة (وعليك توكلت ولصوم غد نويت) بل النية باللسان من البدعة الحسنة.

وفى حاشية الشلبي على تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق (١/ ٣٤٢)

(فائدة) قال في الدراية في اخير باب الاعتكاف ومن السنة أن يقول عند الإفطار اللهم لك صمت وبك آمنت وعليك توكلت وعلى رزقك أفطرت وصوم الغد من شهر رمضان نويت فاغفر لي ما قدمت وما اخيرت اهـ

وفى مجمع الأنهر في شرح ملتقى الأبحر (١/ ٣٦٥)

ومن السـنـة أن يقول حين الإفطار اللهم لك صـمت وبك آمنت وعليك توكلت وعلى رزقك أفطرت ولصوم الغد من شهر رمضان نويت فاغفر لي ما قدمت وما أخرت

وفى الفقه الإسلامي وأدلته(٣/ ٦٣).

الدعاء عقب الفطر بالمأثور: بأن يقول: «اللهم إني لك صـمت، وعلى رزقك أفطرت، وعليك توكلت، وبك آمنت، ذهب الظمأ، وابتلت العروق، وثبت الاجر إن شـاء الله تعالى. يا واسـع الفضل اغفر لي، الحمد لله الذي أعانني فصمت، ورزقني فأفطرت» .

وفى الفقه على المذاهب الأربعة (١/ ٥٢٤) ما يستحب للصائم

يستحب للصائم أمور: ... ومنها الدعاء عقب فطره بالمأثور، كأن يقول: اللهم لك صمت، وعلى رزقك أفطرت، وعليك توكلت، وبك آمنت، ذهب الظمأ، وابتلت العروق، وثبت الاجر، يا واسع الفضل اغفر لي الحمد لله الذي أعانني فصمت، ورزقني فأفطرت.

وقال العلامة محمد زكريا الكاندهلوي

ما اشـتهر على الالسـنة من زيادة : وبک آمنتُ » وكذا زيادة:« وعليک توكلتُ» لا أصل لها وان كان معناها صحيحاً : ويظهر منه أن الزيادة ثابتة في رواية اخيرى :قلتُ وزاد في الأذكار للنووي على رواية ابو داؤد من رواية ابن عباس:فتقبل منا انک انت السميع العليم.

هامش بذل المجهود:٣/ ٣٥٠ باب القول عند.

وكذا في فتاوى الفريدية: ٥١٧/٤) پښتو .

وكذا في (بي ثبوته مسائل) ۸۱).

دغه حديث څنګه دی «حضر رسول الله -صلى الله عليه وسلم-(مجلساً للفقراء ورقص...؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

دغه حديث څنګه حديث دی يعنې: دکومې درجې حديث دی «حضر رسول الله – صلى الله عليه وسلم-(مجلساً للفقراء ورقص...؟ بينوا تؤجروا

المستفتي: مدرسة　　　　　　　　　　　　　　　　تاريخ: ۱۷/ ۱۱/ ۱۴۴۱هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد :دغه حديث په اتفاق دعلماء سره موضوع او دروغ دی.

وفی الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة (ص: ٤٩٦)

ومن ذلك حديث حضر رسول الله صلى الله عليه وسلم سماعا ورقص حتى شق قميصه فلعن الله واضعه ما اجرأه على الكذب.

وفی المنار المنيف في الصحيح والضعيف :(ص: ١٣٩) (٣١٨)

ومن ذلك حديث "حضر رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلسا للفقراء ورقص حتى شق قميصه" فلعن الله واضعه ما اجرأه على الكذب السمج.

وفی اللؤلؤ المرصوع (ص: ٧٤) (١٧٧).

حديث: حضر رسول الله صلى الله عليه وسلم سماعا، ورقص حتى شق قميصه: كذب، لعن الله واضعه. قال ابن قيم الجوزية.

وفى نقد المنقول والمحك المميز بين المردود والمقبول (ص: ١٣)(٢٢١)

ومن ذلك حضور رسول الله صلى الله عليه وسلم مجلسا للفقراء ورقص حتى شق قميصه فلعن الله واضعه ما اجرأه على الكذب السمج .

دغه حديث څنګه دی «ابو حنيفة سراج امتي»؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

دغه حديث څنګه حديث دی « ابو حنيفة سراج امتي» بعض خلک يې په تقريرونو کښې وايې که مو معلومات راکړ ډېره مهرباني به مو وي ؟بينواتؤجروا

المستفتي:أحمد تاريخ:۴/ ۱۱/ ۱۴۴۲هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً ومسلماً وبعد : الفاظ د دغه مذکوره حديث په اتفاق دټولو علماء وو موضوع حديث دی دويلوڅخه يې اجتناب کول لازم ده, اما معنی يې صحيح ده .

لمافي رد المحتار:١/ ١٢٩) مقدمة ط: رشيدية ١٢

(قوله: لأنه روي بطرق مختلفة) بسطها العلامة طاش كبرى، فيشعر بأن له أصلا، فلا أقل من أن يكون ضـعيفا فيقبل؛ إذ لم يترتب عليه إثبات حكم شـرعي، ولا شك في تحقق معناه في الامام فإنه سـراج يسـتضـاء بنور علمه ويهتدى بثاقب فهمه، لكن قال بعض العلماء: إنه قد أقر ابن الجوزي على عده هذه الأخبار في الموضـوعات الحافظ الذهبي والحافظ السـيوطي والحافظ ابن حجر العسـقلاني والحافظ الذين انتهت إليه رئاسـة مذهب أبي حنيفة في زمنه الشيخ قاسم الحنفي، ومن ثم لم يورد شيئا منها أئمة الحديث الذين صنفوا في مناقب هذا الإمام كالطحاوي وصاحب طبقات الحنفية محيي الدين القرشي واخيرين متقنين ثقات أثبات نقاد لهم اطلاع كثير. اهـ.

وقال العلامة ابن حجر المكي في الخيرات الحسـان في ترجمة أبي حنيفة النعمان: ومن اطلع على ما يأتي في هذا الكتاب من أحوال أبي حنيفة وكراماته وأخلاقه وسيرته علم أنه غني عن أن يستشهد على فضله بخبر موضوع.

وفي الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة (ص: ٧٦) رقم (٤)

حديث / ابو حنيفة سراج امتي / / موضوع باتفاق المحدثين .

ولمافي شرح شرح نخبة الفكر للقاري (ص: ٤٤٩)

(او اتباع هوى لبعض الرؤسـاء) كما ذكر مثاله في كلام الجزري، وكحديث " أبي حنيفة سراج امتي "، وكزيادة: "

لمافي تذكرة الموضوعات للفتني (ص: ٤٩)

الصغاني "سراج امتي ابو حنيفة" موضوع.

لمافي الطبقات السنية في تراجم الحنفية (ص: ٢٧)

روى الخطيب البغدادى بسنده، عن أبي هريرة رضي الله تعالى عنه، عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، أنه قال: " إن في امتي رجلاً " ، وفي حديث القصري: " يكون في امتي رجل، اسمه النعمان، وكنيته ابو حنيفة، هو سراج امتي " .

قال الخطيب، بعد روايته: قلت: وهو حديث موضوع، وتفرد بروايته البورقي.

قلت: قد ذكر أنه موضوع غير الخطيب أيضاً، وإنما ذكرناه نحن هنا لاحتمال صحته في نفس الأمر عند الله تعالى، ولأن معناه متحقق في الإمام رضي الله تعالى عنه، فإنه، بلا شبهة ولا ريب، سراج يُستضاء بنور علمه، ويهتدي بسناء فكره الثاقب، وحُسن فهمه، ولأنه لا يترتب عليه شيء من أحكام الدين، ولا يثبت به قاعدة من قواعد الإسلام.

لمافي اللآلي المصنوعة في الاحاديث الموضوعة :(١/ ٤١٧)

(حدثت) عن عبد الرحمن بن عوف بن محمد حدثنا أحمد بن إبراهيم بن تركان حدثنا محمد بن الحسين بن علي حدثنا محمد بن جعفر بن علي التميمي حدثنا مأمون بن أحمد السلمي حدثنا أحمد بن عبد الله الجويباري أنبأنا عبد الله بن معدان الأزدي عن أنس مرفوعا يكون في امتي رجل يقال له محمد بن إدريس أضر على امتي من إبليس ويكون في امتي رجل يقال له ابو حنيفة

هو سراج امتي موضوع وضعه مأمون او الجويباري وذكر الحاكم في المدخل أن مأمونا قيل له الا ترى الى الشافعي ومن تبعه فقال حدثنا أحمد إلى اخيره فبان بهذا أنه الواضع له (الخطيب) حدثنا ابو عبد الله أحمد بن علي القصير حدثنا ابو زيد الحسين بن الحسن بن علي بن عامر الكندي حدثنا ابو عبد الله محمد بن سعيد المروزي البورقي حدثنا سليمان بن جابر بن سليمان بن ياسر حدثنا بشر بن يحيى أنبأنا الفضل بن موسى الشيباني عن محمد بن عمرو عن أبي سلمة عن أبي هريرة مرفوعا يكون في امتي رجل اسمه النعماني وكنيته ابو حنيفة هو سراج امتي قال الخطيب وضعه البورقي

قال وحدثت عن الحاكم أنه قال وضع البورقي من المناكير عن الثقات ما لا يحصى وأفحشها هذا الحديث (قلت) قال الخطيب هكذا حدث في بلاد خراسان ثم حدث به العراق وزاد فيه وسيكون في امتي رجل يقال له محمد بن إدريس فتنة على امتي أضر من فتنة إبليس قال في الميزان كان البورقي أحد الوضاعين بعد الثلثمائة والله أعلم

لمافي تنزيه الشريعة المرفوعة:(٢/ ٣٠) رقم:(٩)

[حديث] يكون في امتي رجل يقال له محمد بن إدريس أضر على امتي من إبليس ويكون في امتي رجل يقال له ابو حنيفة هو سراج امتي هو سراج امتي (قا) من حديث أنس وفيه أحمد الجويباري وعنه مأمون السلمي وأحدهما وضعه، وذكر الحاكم في المدخل أن مأمونا قيل له الا ترى الى الشافعي ومن تبعه بخراسان فقال حدثنا أحمد إلخ فبان بهذا أنه الواضع له فعليه من الله

ما يســتحقه وجعلوه أيضــا من حديث أبي هريرة اخرجه الخطيب من طريق محمد بن ســعيد المرزوي البورقي، قال الحاكم والخطيب: وهو من وضعه لعنة الله تعالى عليه.

لمافي الموضوعات لابن الجوزي (٢/ ٤٨)

ويكون في امتي رجل يقال له ابو حنيفة هو سراج امتي هو سراج امتي ".

هـذا حـديـث موضــوع لعن اللـه واضــعـه، وهـذه اللعنة لا تفوت أحد الرجلين وهما مأمون والجويباري وكلاهما لا دين له ولا خير فيه كانا يضعان الحديث.

قال ابن حبان: كان مأمون رجالا من الرجلين حدث عمن لم يره، وكان الجويباري كذابا دجالا يضع على الذين يروي عنهم ما لم يحدثوه، لا يحل ذكره في الكتب الا على سبيل الجرح فيه.

وذكر هـذا الحديث ابو عبد الله الحاكم في كتاب المدخل الى كتاب الا كليل فقال قيل لمأمون بن أحمد: الا ترى الى الشــافعي وإلى من تبع له بخراســان فقال حدثنا أحمد بن عبد الله فذكر الحديث، فبان بهذا أن الواضع له مأمون الذي ليس بمأمون.

باب في فضل أبي حنيفة أنبأنا عبد الرحمن بن محمد أنبأنا أحمد بن علي بن ثابت الخطيب أنبأنا ابو عبد الله أحمد بن أحمد بن علي القصري حدثنا ابو زيد الحسين بن الحسن ابن علي بن عامر بن سليمان بن ياسر حدثنا بشر بن يحيى أنبأنا الفضل بن موسى السناني عن محمد بن عمرو عن أبي سلمة عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: " يكون في امتي رجل اسمه النعمان، وكنيته ابو حنيفة هو سراج امتي ".

قال الخطيب: هذا حديث موضوع تفرد بروايته البورقي.

قال وحدثت عن أبى عبد الله الحاكم أنه قال: وضع ابو عبد الله البورقي من المناكير عن الثقاة ما لا يحصى وأفحشها هذا الحديث: " سيكون في امتي رجل يقال له ابو حنيفة هو سراج امتي ". هكذا حدث به في بلاد خراسان ثم حدث به بالعراق بإسناد

لمافي الموضوعات للصغاني (ص: ٤٦) رقم:(٦٠)

ومنها قولهم: " عمر [بن الخطاب] سراج اهل الجنة، وابو حنيفة سراج امتي ".

لمافي الفوائد الموضوعة في الاحاديث الموضوعة (ص: ١٤١) رقم:(٢٠٣)

وحديث: " إن في امتي رجلا اسمه النعمان وكنيته ابو حنيفة هو سراج امتي ".

لمافي الؤلؤ المرصوع للقاوقجي (ص: ٣٠) رقم (٧)

حديث ابو حنفية سراج امتي موضوع باتفاق المحدثين

لمافي كشف الخفاء ومزيل الالباس: (١/ ٣٠) رقم(٥٣)

ابو حنيفة سراج امتي / قال القاري في موضوعاته الكبرى هو موضوع باتفاق المحدثين.

وكذافي فتاوى رحمانية: ١/١٦٧).

وكذافي فتاوى حقانية: ٢/ ٢١٩).

وكذفي مجموعة الرسائل لمفتي عبدالرؤف صاحب:٤/ ٢٤٠).

دغه حدیث څنګه دی «الناس علی دین ملوکهم او ملیکهم»؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

دغه حديث څنګه حديث دی « الناس على دين ملوكهم او مليكهم» بعض علماء يې په خپلو تقريرونو كښې وايې ؟بينواتؤجروا

المستفتي:شاكر تاريخ:۵/ ۱۱/ ۱۴۴۲هق

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد :دغه مذكوره حديث موضوع دی په اسلام كښې هيڅ اصل نه لري او دهر عالم لپاره داضرور ده چې د دغه شيانو څخه ځان وساتي .

لمافي الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة (ص: ٣٦٧) رقم (٥٥٢)

حديث/ الناس على دين ملوكهم او ملكهم / قال السخاوي لا أعرفه حديثا وهو قريب مما قبله معنى

لمافي المصنوع في معرفة الحديث الموضوع (ص: ١٩٨) رقم (٣٧٦)

حديث الناس على دين ملوكهم قال السخاوي لا أعرفه

لمافي تذكرة الموضوعات للفتني (ص: ٧٨)

"كما تكونوا يولى عليكم او يؤمر عليكم" في سنده انقطاع وواضع هو يحيا بن هاشم وله طريق فيه مجاهيل، وعند الطبراني في معناه من طريق عمر وكعب والحسن "الناس بزمانهم أشبه منهم

بآبائهم" من قول عمر رضي الله عنه "الناس على دين ملوكهم" لا أعرفه حديثا وهو قريب مما قبلـه ويتـأيـد بما للطبراني مرفوعا "إن لكل زمان ملكا يبعثه الله على نحو قلوب اهله فإذا أراد إصلاحهم بعث اليهم مصلحا وإذا أراد هلكتهم بعث فيهم مترفيهم".

لمافي المقاصد الحسنة (ص: ٦٨٩) رقم(١٢٣٦)

حَدِيث: النَّاسُ على دين ملكيهم، لا أعرفه حديثا. وهو قريب مما قبله، وقد روينا عن الفضيل بن عياض أنه قال ما معناه: لو كانت لي دعوة صـالحة لرأيت السـلطان أحق بها، فبصلاحه صلاح الرعية، وبفسـاده فسـادهم، ويتأيد بما للطبراني في الكبير والاوسـط، عن أبي امامة مرفوعا: لا تسبوا الأئمة، وادعوا لهم بالصلاح، فإن بصلاحهم لكم صلاح، وللبيهقي عن كعب الأحبار قال: إن لكل زمان ملكا يبعثه اللَّه على نحو قلوب اهله، فإذا أراد صلاحهم بعث عليهم مصلحا، وإذا أراد هلكتهم بعث فيهم مترفيهم، الى غير ذلك مما بينته في "مفاخير الملوك"، ومنه قول القاسم بن مخيمرة: إنما زمانكم سلطانكم، فإذا صلح سلطانكم صلح زمانكم، وإذا فسد سلطانكم فسد زمانكم، وفي ثالث المجالسة للدينوري أن عمر بن الخطاب لما جيء اليه بتاج كسرى وسواريه، جعـل يقلبه بعود في يده، ويقول: واللَّه إن الذي أدى هذا لأمين، قال له رجل: يا أمير المؤمنين، أنـت أمين اللَّه، يؤدون اليك ما أديت إلى اللَّه، فإن خنت خانوا، وقد مضـى: كما تكونون يولى عليكم.

لمافي الفوائد المجموعة (ص: ٢١٠) رقم(١١)

حديث: "الناس على دين ملوكهم.

قال في المقاصد: لا أعرفه حديثا.

لمافي أسنى المطالب في احاديث مختلفة المراتب (ص: ٣٠٩) رقم (١٦٢٤)

خبر: " الناس على دين مليكهم او ملوكهم ". لا يعرف حديثا وفي البدر: إنه من كلام عمر.

لمافي كشف الخفاء: (٢/ ٣٧٦) رقم:(٢٧٩٠)

الناس على دين مليكهم – او ملوكهم

قال في "المقاصد": لا أعرفه حديثًا وهو قريب مما قبله، وروينا عن الفضيل أنه قال: لو كانت لي دعوة صالحة لرأيت السلطان أحق بها، إذ بصلاحه صلاح الرعية، وبفساده فسادهم. ويتأيد بما للطبراني في "الكبير" و"الاوسط" عن أبي امامة مرفوعًا: "لا تسبوا الأئمة، وادعوا لهم بالصلاح، فإن صلاحهم لكم صلاح".

دغه حديث څنګه دی «علماء امتي كانبياء بني اسرائيل»؟

﴿الاستفتاء:﴾ محترم مفتي صاحب!

دغه حديث څنګه حديث دی «علماء متي كانبياء بني اسرائيل» بعض مقرين حضرات يې وايې په خپل تقاريرو کښې ؟بينواتؤجروا

الجواب باسم ملهم الصواب

حامداً ومصلياً وبعد : دغه مذكوره حديث په اعتبار د سند سره موضوع دی دهرمسلمان لپاره لازم دي چې د دغه حديث د ويلو څخه ځان وساتي .

اما بعض علماء بيا وايي چې په اعتبار د معنى سره صحيح دی .

حديث علماء امتي كانبياء بني إسرائيل لا أصل له كما قال الدميرى والزركشي والعسقلاني

أخرجه علي القاري في المصنوع في معرفة الحديث الموضوع (ص: ١٢٣) رقم (١٩٦) حديث علماء امتي كانبياء بني إسرائيل قال الدميرى والعسقلاني لا أصل له وكذا قال الزركشي وسكت عنه السيوطي.

أخرجه علي القاري في الأسرار المرفوعة في الأخبار الموضوعة (ص: ٢٤٧) رقم (٢٩٨) (حديث) "عُلَمَاءُ أُمَّتِي كَأَنْبِياءِ بَنِي إِسْرَائِيلَ" لا أصل له.

أخرجه السيوطي في الدرر المنتثرة في الاحاديث المشتهرة (ص: ١٤٨)رقم (٢٩٤) "علماء امتي كانبياء بني إسرائيل" قال شيخنا الزركشي لا أصل له ولا يعرف في كتاب معتبر.

اخرجه العلامة طاهر الفتني الهندي فى تذكرة الموضوعات(ص: ٩)

وحديث: ((علماء امتي كانبياء بني إسرائيل)) الى غير ذلك.

اخرجه الإمام محمد عبد الحي اللكنوي في عمدة الرعاية - (١/ ٥٧)

وقال تحته: الحديث لا أصل له كما قال العسقلاني والزركشي والدميرى والسيوطي. ينظر: ((المصنوع))(ص١٢٣)، و((الأسرار))(ص٢٤٧)، و((التذكرة في الاحاديث المشتهرة))(ص١٦٧)، و((الدرر المنتثرة))(٢٩٣)، و((الشذرة))(ص٢٠٦)، و((تذكرة الموضوعات))(ص٢٠)، وغيرها. وفيه بحث في ((كشف الخفاء))(٢: ٨٣).

حديث : علماء امتي كانبياء بني إسرائيل .قال ابن حجر والزركشي : لا أصل له .

أخرجه الشوكاني في الفوائد المجموعة:(ص: ١٣٢) رقم (٤٧)

علماء امتي كانبياء بني إسرائيل .

قال السيوطي في الدرر لا أصل له، وقال في المقاصد قال شيخنا يعنی ابن حجر لا أصل له، وقبله الدميرى والزركشي، وزاد بعضهم ولا يعرف في كتاب معتبر، وقد مضى في أكرموا حملة القرآن، كاد حملة القرآن أن يكون انبياء إلا أنهم لا يوحى اليهم،ولأبي نعيم بسند ضعيف عن ابن عباس رفعه : أقرب الناس من الدرجة النبوة اهل العلم والجهاد، انتهى وأنكره أيضا الشيخ إبراهيم الناجي والف في ذلك جزءا.

أخرجه في كشف الخفاء ومزيل الالباس (١/ ٤٦٧) رقم (١٧٤٤).

وَحَدِيث: " عُلَمَاءُ أُمَّتِي كَأَنْبِيَاءِ بَنِي إِسْرَائِيلَ ". لَا أَصْلَ لَهُ.

أخرجه المقدسي في الفوائد الموضوعة في الاحاديث الموضوعة (ص: ١٠١) رقم (٨١)

حَدِيث: عُلَمَاء امتي كانبياء بني إِسْرَائِيل. قَالَ التِّرْمِذِيّ، والدميرى، وَابْن حجر: لَا أصل لَهُ، وَكَذَا قَالَ الزَّرْكَشِيّ. ذكره فِي مُخْتَصر الْمَقَاصِد.

أخرجه القاوقجي الطرابلسيفي فى اللؤلؤ المرصوع (ص: ١٢١) رقم (٣٣٨)

حديث علماء امتي كانبياء بني إسرائيل

موضـوع لا أصل له كما قاله غير واحد من الحفاظ ويذكره كثير من العلماء في كتبهم غفلة عن قول الحفاظ

أخرجـه محمد بن درويش في أســنى المطالب في احاديث مختلفة المراتب (ص: ١٨٤) رقم (٨٨٩)

الحديث الثامن علماء امتي كانبياء بني اسرائيل/ لا يعرف له اصل.

أخرجه الزركشي في اللآلي المنثورة في الاحاديث المشهورة (ص: ١٦٧)

حديث (علماء امتي كانبياء بني إسرائيل)

قال شـيخنا ومن قبله الدميرى والزركشـي إنه لا أصل له زاد بعضهم ولا يعرف في كتاب معتبر وقد مضــى في أكرموا حملة القرآن (كاد حملة القرآن أن يكونوا انبياء إلا أنهم لا يوحى اليهم) ولأبي نعيم في فضــل العالم العفيف بسند ضعيف عن ابن عباس رفعه (أقرب الناس من درجة النبوة اهل العلم والجهاد.

اخرجه السخاوي في المقاصد الحسنة (ص: ٤٥٩) رقم (٧٠٢)

وفي شم العوارض في ذم الروافض (ص: ٨٦)

وَبهَذَا ظهَرَ صِحة مَعنَى مَا اشتهر عنه عَلَيه الصَّلاة وَالسَّلام: ((علماء امتي كانبياء بني إسرائيل)) وإن كَانَ مَبناهُ مِما لاَ أصل لَهُ عندَ المحدّثين، غفل عَن هَذا السيّد جمال الدّين ، حَيثُ ذَكَرهُ بِعنَوان الحدَيث في صدُور (رَوضَة الأحباب) وَالله اعلَم بالصّوَاب.

